# باچاخان د يو اتل په حيثيت

شمس بونيرے



موسمونه او وختونه په ځائې نه اودرېږي او زيرک انسانان د دغسې سياسي دورونو او وختونو د حالاتو د تقاضو مطابق د بدلون په لټه کښې وي نو دغه سياسي دورونه او وختونه د بدلون دپاره په خپله ټولنه کښې پوهه زيرک او په حالاتو خبر د ښه پروګرام دپاره يو بهتر انسان چې د فطري خويونو نه علاوه عملي خويونه،خانداني او ټولنيز رسمونو او رواجونو نه خبر وي پېدا شي.

زه په خپله د څلورو شخصيتونو نه متاثره يم چې په کښې ئې زما پېغمر محمدؐ دے. هغه چونکي خدائې پاک پېغمبر پېدا کړے ؤ نو د عربو د ټولنيز ژوند او حالاتو نه خبر ؤ ډېر زر په صادق او آمين مشهور شو. کومې ښځې چې به حضورؐ ته لار کښې ګنده ګۍ اچولې خو چې دوه درې ورځې لار پاکه وه نو حضورؐ د هغې د تپوس دپاره د هغې کور ته لاړو هغه بيماره وه حضورؐ هغې ته دعا وکړه او را روان شو بيا تر عمره پورې په دغه لاره کښې چا ګندګي وانه چواله ځکه چې هغه ښځه مسلمانه شوه. او دغسې د خديجې ابئ مسلمانې هم د رسول پاک په تجارت کښې د هغې سره صداقت ؤ نه يواځې مسلمانه شوه بلکې د حضورؐ سره ئې نکاح هم وکړه. دغسې کردار،عمل او اخلاقو زمونږ د پېغمرؐ نه عظيم شخصيت جوړ کړو که په عقيده ئې څوک مني او کنه ولې د لوړ انسان په حيثيت ئې ټوله دنيا مني.

زه چې دويم د چا نه متاثر يم دا عيسیٰ عليه السلام دے چې د يسوع مسيح په نوم

یـادېږي د دهٔ ژونـد هم او پېدایښت هم د دهٔ قتل هم تـول ژور فـکـر غـواړي پـه ځنګل کښې د مور په غېږه کښې پېـدا کېږي او د هغې د تربیت د لاندې ژوند کوي لوئیږي ځان ته ګوري مور ته ګوري خو د یـو دریـم وجـود په تلاش کښې دے چې زما پلار څـوک دے. عیسیٰ علیه السلام ځنګلونو ته لاړو پـــه ځـان ئې څـادر را واچـولـو یـادونو،فکرونو او خیـالـونـو کښې ډوب شـو پـه خپله بې ګناه ؤ او د ګناهونو نه ئې کرکه کوله. خپل یو لاس ئې اوچت کړو چې پـــه دې کښې شـفـاء ده او دویـم لاس ئې اوچـت کړو چې پـه دې کښې رحمت دے. د شفاء د لاس سـره خلقو اتفاق وکړو ولې د رحمت لاس ئې نـه مـنلو. عیسی علیه السلام چې نور هم په ځان سوچ وکړو نو یقین ئې پېدا شو چې خدائې پاک په آدم کښې روح اچولے ؤ چې دنیا آباده شي او په ما کښې هـم خـدائې روح اچـولے دے چې دنیـا کښې دنـفـرتـونـو،جـنګـونو او جهالت په ځائې مینه او ورورولي راشي نو پاسېدو او د دغې د عملي کېدو دپاره مېدان ته راغے.

زه د سیـاسـي طـالـب عـلم په حیث چې د دریـم انسان نه متاثره او زما په زړهٔ ئې د مینې او مـحبـت چاپـونه لګولي دي دا نلسن منډیلا دے. نـلسـن منډیلا ښه اعلی تعلیم یافتـه د لوړ فکر او عـمـل خاوند ؤ د هغه په نظر کښې د خپل ملک نه عـلاوه د افـریقي د خلقوتور تاریخ مخې ته پروت ؤ. امـریـکه،فرانس او انګلینډ د افریقې د غلامانو نه ډک او دغه ملکونه د دوي په وینو آباد شوي وو دغــه ځـایـونـه هـم د افریقي خلقو جوړ کړي چې د جـوړولـو نه پس به ئې ور ته ولیکل ,,تاسو دلته دنـــه نشئ تللے،، دغه بسونه دوي کارخانو کښې جـوړ کړي وو چې د سـفر پـه دوران کښې دوي تـه پـکښې د نـاسـتې اجـازت نـه ؤ. نو نلسن په خپل ځان او خپل قام فکرونه شروع کړل. هغه د آزادۍ تـحـریک جـوړ کړو او جیـل ته لاړو ولې په جیل کښې ئې هـم لـکـه د فیوچک خپله مبارزه جاري وساتله.

جیل ته یوه ورځ د دهٔ ملګري د دهٔ ملاقات لـه راغـلل نو نلسن ور ته ووې ما نه څه غواړئ ما سره څه دي څه چې ما سره وو ما تاسو ته پرېښودل زهٔ خـو دښـمـن نـه ستاسو او ستاسو د ملک دپاره آزادي غـواړم که تاسو په دې خوشحاله یئ نو لاړ شـئ د آزادۍ جنګونه وکړئ ما که خپله خاوره او خپل وطن آزاد کړے ؤ نو بیا که زما نه څه غواړئ نو ما سره به هر څه وي اوکه څهٔ هم نه وي نو مینه، ورورلـي او د تـعـمیـر دپاره شریکه مبارزه خو به وي. هم داسې وشو د آزادۍ تحریکونه روان وو او نـلسـن مـنډیـلا بـه د جیل نه د دوي نګراني کوله وطن آزاد شو. نیلسن هم د زندان نه آزاد شو ولې د دښمن ټول نفرتونه،ظلمونه او تراخه جنګونه ئې پـــه خپـلـــه چـکـئ کښې بند کړل او د خپل وطن د قهـرمـان پـه تـوګـه راووتو خو د جیل او مبارزې یادونه ئې د ځان سره سنبال ساتلي وؤ.

د خپل وطن د صدارتي منصب نه پس چې امـریـکې تـه لاړو نـو د امریکې صدر کلنټن ترې تپـوس وکړو کـه د جیـل پـه دوران کښې څه خبره داسې وي چې تـه ئې یـاد ساتل غواړې دا واقعه ما تـه اووایـه چې زه ئې پـه خپل کتاب کښې ولیکم هـغـه ور تـه ووې ستـاسـو د جـنګونو واقعات او

نفرتونه ما خپلې چکۍ کښې بند کړې او نوي انسان په حیث راوتے یم څه چې مو کړي ښه مو کړي دي زما د وطن د آبادۍ،خوشحالۍ او تعمیر دپاره مونږ سره کومک وکړه او څه چې ته خپل کتاب کښې لیکې نو دا خبره ما ته یاده ده چې جیل کښې په ما شبیره تبه راغله خو د جیل عملې ما ته دویم کمبل نه راکولو ولې په ما چې د کوم سپاهي د شپې ډیوټي وه دا افریقائي ؤ ما ته په جنګله کښې هغه خپل کمبل راکړو ما په کمبل دپاسه واچولو نو تود شوم او مړ نه شوم. ولې کله چې زه صدر شوم نو په سبا له ما دغه سپاهي دفتر ته راوغوښتو او هغه ته مې ووې ته به د مرګه پورې د دغه جیل سپرډنټ ئې او که هره ورځ زه تا سره ښه کوم نو ستا د دغې شپې د کمبل احسان نه شم پوره کولے. تاریخ خپل چاپونه پرېږدي نن ټوله دنیا نیلسن منډیلا د یو عالمي اتل په توګه مني.

زما د خپلې خاورې تاریخ او سیاست سره مینه ده د پښتنو په خاوره کښې سنګ مرمر د تیلو او ګیس کویان،د قیمتي کانو او زمرودو زخیرې دلته د ځنګلونو کثیر تعداد او هوائي مرغۍ عقاب بازونه او مرغ زرین په کثرت سره موجود دي. او فرنګیانو ډیر چپاؤنه کړي. ولې پښتنو غلجیانو،لودهیانو او د پښتنو نورو مشرانو هم په ډیلي خپلې جنډې خیژولې دي.

د مغلو په ضد پیر روښان شیرشاه سوري او په وروستۍ پیړۍ کښې خوشحال خان خټک کلکې او سختې مبارزې کړي که دغې ټولو مبارزو ته غور وکړے شي نو دښمنانو د دغې مبارزینو په ضد د دوي مخې ته خپل ورور او عزیز مقابلې ته ودرولے دے. او دا د پښتون تاریخ یو تریخ حقیقت دے.

انګریز د هندوستان خاورې ته د تجارت په نوم راغے مطلب اومقصد ئې د دې خاورې نیول وو او په رو رو په خپله منصوبه کښې کامیاب شو. د ډیلي د دنګې منارې نه ئې د افغانستان په خاوره خپل نظر خخ کړو او چې څومره خاوره ئې په قبضه کښې راوستے شوه هغه ئې قبضه کړه.

فرنګیانو دلته د پښتنو په خاوره ځان له مل،ټل خان،نواب،میا او ملا پیدا کول دلته هم وختونو د ځانه ستوماني ویستل غوښتل اوس څوک اتل په کار وو څوک مصلح په کار وو څوک مردمېدان په کار وو چې وختونو کښې مثبت بدلون وکړي.

باچاخان د هشنغر د یو خان په کور کښې پیدا ؤ هغه کښې د حجرې او مېلمه پالنې او ساتنې صفتونه وو. د دۀ پلار د خپلې علاقې جرګه مار او د نوم سړے ؤ په خپلو بچو ئې د تعلیمونو دروازې پرانستې وې. د ګېرچاپېره ماحول،رسمونه او رواجونه د فرنګي د ظلم قوانین او عادتونو باچاخان کښې دننه یو حرکت او د ښه سوچ عمل شروع کړو.

باچاخان د دیني او دنیاوي تعلیماتو او پښتنو د عادتونو نه خبر ؤ نو په پښتنو کښې ئې د اصلاح په نوم یو عمل شروع کړو ولې دا عمل په یواځې ځان نشو کېدے نو ځکه هغه ته د ګرځېدو او خپل مشن د خورولو دپاره د ملګرو ضرورت ؤ نو باچاخان د زړو رسمونو رواجونو په ضد د خلقو

حجرو ته لاړو او حجرې به يې پاکولې د کلي خلق به ئې د ملګرو په واسطه حجرو ته راغوښتل ور ته به ئې وئيل زاړه رسمونه رواجونه پرېږدئ خپل بچي په سکولونو کښې داخل کړئ تاسو خو چا د جنګونو،تربګنو نه بغېر په بل څه نه يئ پوهه کړي که دا بچي مو پوهه شي نو د دوي ژوند به ښه شي رو رو چې اصلاحي پروګرام زيات او خور شو نو د وخت حاکمانو باچاخان ته ووې ځان له خپله بادشاهي مه جوړه وه دا کارونه او مدرسې جوړول پرېږده. حکومت په خپلو کارونو پوهېږي خاموش پاتې شه اوکه څه غواړې چې درکړو باچاخان ور ته ووې ته خو ما ته لکه د سقراط د مقدمې د قاضي په توګه لګيا ئې چې رښتيا مه وايه او هغه ور ته ووې چې خپل ملک کښې رښتيا نه وايم نو په پردي وطن کښې به ئې څه وايم. زه هم تا ته وايم صببه جرم نه کوم. ګناه نه کوم. زاړه رسمونه ختموم. تعليم خوروم دا کار نشم پرېښودے ما سره چې څه کوئ کوه خو زه به خپل داعمل جاري ساتم.

اوس وخت يوه بله ډډه واړوله او باچاخان ووې چې يو تنظيم په کار دے نو د سوچ او فکر نه پس ئې خدائي خدمتګار تحريک په نوم تنظيم جوړ کړو. د دې تحريک مقاصد د رسمونو او رواجونو د مخالفت سره سره د فرنګي په خلاف جرګې او جلسې هم وې چې زمونږ وطن مونږ ته پرېږدي. مونږ نور تا په خپله خاوره نه غواړو د دغې تحريک مشران ئې سالاران،جرنيلان، کپتانان مقرر کړل او د دغې تحريک اکثر مشران به د غريبې کورنۍ کسان وو ولې حکم به ئې لويو خانانو،نوابانو او باچاخان په خپله هم منلو.

د دې دوه مثالونه دي باچاخان د صوابۍ مانيرۍ کلي ته تلے ؤ د ژمي سحر ؤ يخني وه ملګرو ته ئې ووې راځئ سليم خان ته به لاړ شو چې د خوړ غاړې ته ورسېدو نو باچاخان ووې د چا چې څپلۍ په ښپو دي هغه څپلۍ وباسئ د وردۍ خاوندان چې بوټان ئې دي په اوږو واخلئ او د خوړ پورې غاړې ته يې ورسوئ او په خپله ئې نجو کاکا سالار ته ووې زما اوږې ته راخېژه حکم به اول په ځان منم او بيا به ملګرو نجو کاکا ئې په اوږه د خوړ بلې غاړې ته بوتلو.

باچاخان د دوو ملګرو سره راروان ؤ واپس مردان ته راتلو په لاره کښې يو سړي په خپله پټې کښې په غوانو ايوه کوله باچاخان ور ته ووې مونږ خدائي خدمتګار يو مونږ سره ملګرتيا وکړه هغه ور ته ووې زه خو خدائي خدمتګاري نه پېژنم نو باچاخان د هغه نه يوې مونټۍ واخسته ورسره روان شو او خدائي خدمتګاري ئې ور ته ښودله او چې زميدار ووې پوهه شوم نو باچاخان د يوې مونټۍ هغه ته لاس کښې ورکړه او روان شو.

دا پوره وي او که سپوره وي د دې اغاز هم د مردان د يو زميدار سره باچاخان په پوله ناست ؤ او د خدائي خدمتګارۍ اصول ئې ور ته بيانول چې په دې کښې د هغې زميدار ماشومې لور پټې ته ساګ او د جوارو دوه ډوډۍ راوړې زميدار باچاخان ته ووې بسم الله کوه. باچاخان يوه ډوډۍ زميدار ته او کاسه کښې ساګ ورکړو دغه بله ډوډۍ ئې دوه ځايه کړه نيمه ځان ته او نيمه ملګري ته ورکړه. په خپله ډوډۍ او د ملګري په

ډوډۍ ئې لړ لړ ساګ واچولو ډوډۍ ئې خوړه او خبرې ئې کولې چې ډوډۍ خلاصه شوه نو باچاخان د پښتنو د اتفاق دعا وغوښته او زمیدار ته ئې ووې د خدائي خدمتګارۍ پروګرام که پوره وي او که سپوره وي دا به په شریکه وي. او دا قیصه لا تراوسه روانه ده.

د باچاخان ژوند که په درې حصو کښې تقسیم کړو نو یوه حصه خو ئې په زندانونو کښې بله حصه ئې ئې دکلو،حجرو،جرګو او جلسو کښې او دریمه حصه په ابتدائي تعلیمونو او خارجي سفرونو خوره ده. ما هم د باچاخان سره یوه سه روزه تېره کړې ده. باچاخان د یو خپل لیکلي پېغام سره بونیر ته راغے زۀ د پارټۍ سکرټري وم د میا ګل جان باچا په حجره کښې باچاخان شپه تېره کړه او د دغې علاقې د مشرانو سره ئې خبرې اترې وکړې د دۀ سره مرحوم امیرمحمدخان ترخوي هم ملګرے ؤ. هغه بۀ هم خلقو ته په قراني ایاتونو او حدیثونو خپلې خبرې کولې. د باچاخان دویم پروګرام د زرین خان کلپاڼي په حجره کښې ؤ سحر د روانېدو نه مخکښې باچاخان ترخوي صېب ته ووې ګوره عالم سړے ئې په سر دې نه پټکے شته او نه ټوپۍ لږ خو ځان شرعي ته برابر ساته. ترخوي صېب ور ته ووې باچاخانه که د سر نه د پښنو پورې شرعي ته برابر شم خو دا پښتانه خو نه تا مني او نه ما ولې زه خو دې منم. دا خپله ټوپۍ ما له راکړه نو په سر به ئې کړم. باچاخان ور ته ووې ترخوي زما سره خو دغه یوه خړه ټوپۍ ده که تا ته ئې درکړم نو زه سرتور پاتې کېږم ځان له جوړه کړه کنه. هغه ور ته ووې باچاخانه چې جوړه ئې کړم بیا به ئې پسره وم اوس زه چې چرته بل کلي ته ځو.

باچاخان کلپاڼۍ ته لاړو زرین خان د خپلې علاقې او چغرزو ډېر مشران رابللي وو. د ماسپښین مونځ وشو چې مونږ د جومات نه راغلو نو لوئې دسترخوان سره د خوراک غوړېدلے ؤ. باچاخان خلقو ته ووې په خپله زما خبرو له راغلي یئ که ډوډۍ له راغلي یئ ډوډۍ وخورئ او ځئ. د کور خاوند باچاخان ته ووې تاسو ته مو کمره کښې ډوډۍ ایښودې ده تاسو دننه وخورئ. باچاخان ووې زه نیم کورے نه کوم چې خورو نو په شریکه به خورو ډوډۍ د خوراک نه پس باچاخان مشرانو ته ګټورې خبرې وکړې مېلمانه لاړل او باچاخان حجره کښې شپه تېره کړه او سبا د عبدالمتین خان حجرې ته لاړو هلته هم د چملې او امازو مشران راغلي وو. باچاخان ور ته خبرې وکړې او متین خان ته ئې ووې خانه تا چې دا دومره بې ځایه پیسې په ډوډۍ لګولې دي که دا پیسې دې پارټۍ ته چنده کښې ورکړې وې نو دا به ښه وه نور زیات تاوانونه بۀ نه کوئ.

باچاخان په بله ورځ د طوطالۍ په لاره صوابۍ ته لاړ ولې یادونه ئې پرېښودلې دي. د باچاخان قربانۍ دنیا ومنلې او د عدم تشدد په فلسفه د دنیا ریسرچ اداري تحقیقات کوي. باچاخان عظیم قهرمان اتل او رهبر دے. تاریخ ځوک رد کولے نه شي.

☆☆☆